الله تعالى او رسول يې د شرابو، مردارې، خنزير او بُتانو خرڅول حرام کړي دي

له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې په مکه کې يې د فتحې په کال ويېل: «الله تعالى او رسول يې د شرابو، مردارې، خنزير او بُتانو خرڅول حرام کړي دي، نو وويل شو چې: ای د الله رسوله! د مردارې د وازرو په اړه خبر راکړه (چې حکم يې څه دی) ځکه په هغې سره بيړۍ غوړيږي او پوستکو ته پرې رنګ ورکول کيږي (غوړيږي چې د وچېدو مخنيوی يې وکړي) او خلک پرې څراغونه روښانه کوي؟ نو هغه وويل: «نه، هغه حرام دي»، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې وخت کې وفرمايل : «الله تعالى دې يهودان تباه کړي، کله چې الله تعالى (د چارپايانو) وازګې حرامې کړې، نو دوی ويلې کړې، بيا يې خرڅې کړې او پېسې يې وخوړې».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

جابر رضي الله عنه په مکه کې د فتحې په کال له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې ويل ئې: الله او رسول يې د شرابو، مردارې، خنزير او بُتانو خرڅلاو حرام کړی دی، نو وويل شو چې ای د الله رسوله! آيا مونږ ته روا دي چې د مردارې وازګې خرڅې کړو؟ ځکه په هغې سره کښتۍ غوړيږي، پوستکي پرې رنګيږي او خلک پرې څراغونه روښانه کوي، نو هغه وفرمايل: نه، خرڅول يې حرام دي، بيا په دې وخت کې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالى دې يهود هلاک کړي او خپل لعنت دې پرې راولېږي؛ کله چې الله تعالى پرې د حيواناتو وازرې حرامې کړې دوی ويلې کړې، بيا يې د هغې غوړ خرڅ کړل او پېسې يې وخوړې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4556